مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۲/۱۵

# غلیمـه! ګـوره دا جګـړه بـه پـه تـش لاس ګټمه

## غزل

په تا مئين د سره تېـر د تـورې شـړنګ پيژنم
جګې شملې او خـړ شادر د رباب ټنګ پيژنم

غلیمـه! ګـوره دا جګـړه بـه پـه تـش لاس ګټمه
داسې جنون يـم تخنولی چې غورځنګ پيژنم

اغياره ستا سترګې بدرنګې دي ښکلا نه ويني
زه د وطن ښکلا کـې پټ يـمـه بدرنګ پيژنم

اوس مې د عقل فلسفه لوستې نور نه غولېږم
زه ستا د مکـر او فريب هر يو ګړنګ پيژنم

اوس د بنګړو او هتکړو شرنګ په توپير پوهېږم
زه "پسرلی" بـوی د بـارودو او لـونګ پيژنم

### یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!